AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڼ
۲۰۲۶/۰۱/ ۳۰

# د یهودو عادلانه جګړې
## (یوسل یویشتمه برخه)

### ولې امریکایي سیاستوال له اسراییلو، د خپل سر او مال په بیه دفاع کوي؟ (۴)

### د اسراییلو ملاتړي، د آیپک (AIPAC)[1] لابي ډله

په امریکا کې له اسراییلو څخه د ملاتړو (لابي) ډلوټپلو څخه یوه مهمه ډله د آیپک  په نوم ده چې د اسراییلو د ملاتړ او امنیت لپاره نه ستړيکېدونکي هلېځلې کوي. «نوموړې ډله وایي چې د ۲۰۲۵ز. کال پورې د امریکا په متحده ایالاتو کې له پنځو میلیونو زیات غړي لري.»[2]

د آیپک کمېټه له اسراییلو سره خورا ژورې اړیکې او خواخوږي لري، داسې دریځ لري، لکه څرنګه چې د اسراییلي صهیونستانو دریځ دی ځکه خو د اسراییلو پخواني لومړي وزیر **(آریل شارون)** یوې امریکایي ډلې ته ویلي وو:**«کله چې خلک له ما پوښتي چې موږ څنګه کولی شو له اسراییلو سره مرسته وکړو نو موږ هغوی ته وایو : له آیپک سره مرسته وکړئ.»**[3]
د آیپک کمېټه د سيآیاې او اسراییلي استخباراتو (موساد) تر منځ د اړیکو تینګولو وسیله هم ده او د موساد ښی لاس شمېرل کېږي.
نوموړې کمېټه د امریکا پر ولسمشرانو، د کانګرس پر وکیلانو، سناتورانو، د وسلو جوړولو پر لویو کمپنیو، بانکونو او یو شمېر لویو میلیاردرانو باندې ژور اغېز لري.[4]

سربېره پر دې، د آیپک کمېټه پر خبري رسنیو هم اغېز لري او له ډېرو مالي امکاناتو برخمن دي چې د امریکا په ولسمشریزو او د کانګرس په ټاکنو کې له نوماندانو سره مشروطې مالي مرستې کوي چې د دوی یوازینی شرط دا دی: **هر هغه نوماند چې د آیپک د مرستې په پایله کې بریالی شي، باید له اسراییلو څخه په هره برخه کې دفاع وکړي.**

تر دې چې د آیپک لهخوا پېرودل شوي وکیلان نه شي کولی په کانګرس کې د اسراییلو په اړه، پرته د آیپک له خوښې خپل سیاست غوره کړي.
پوهېږو چې د امریکا په ټاکنو کې تر ټولو مهم رول پیسې لوبوي نو کله چې د ولسمشرۍ یا د کانګرس نوماندان د اسراییلو پر وړاندې دښمنانه دریځ غوره کړي، د آیپک ټولې انتخاباتي مرستې د دوی پر ځای د هغوی سیالانو ته ورکول کېږي.

---

[1]: آیپک:(د امریکا او اسراییلو د عامه چارو کمېټه) چې له دې وړاندې (د امریکا او صهیونیستانو د عامه چارو کمېټه) بلل کېده، نوموړې کمېټه د اسراییلپلوه ډلو څخه یوه مهمه لابي ډله ده چې د امریکا د مقننه او اجرائیه قواوو پر وړاندې د اسراییلو له سیاستونو ملاتړ کوي.
[2] :https://www.aipac.org/resources/aipac-israel-myths-facts
[3]: لیکوالان: جان. جی. میرشایمر او استیون.ایم. والت: لابی اسراییل وسیاست خارجی ایالات متحده. فارسي ژباړه: لطف الله میثمی.
[4]:*http://www.newyorker.com/magazine/2014/09/01/friends-israel*


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

آیپک د امریکا په دواړو لويو ګوندونو، ډیموکرات او جمهوري غوښتونکو په منځ کې له ځانګړو نوماندانو سره د ټاکنو پر مهال مرستي کوي خو داسي ویل کیږي چي «د ډیموکرات ګوند نوماندان د ولسمشرۍ په ټاکنو کې شاوخوا ٪۶۰ خپلي مالي سرچيني د يهودي ملاتړو څخه تر لاسه کوي.

ربښتیا دا دي چي آیپک ته د امریکا یو ګوند هم مهم نه دی، دوی ته هغه څوک مهم دي چي د اسراییلي ګټو پلوي کوي. آیپک، د خپلي سیاسي اقدام کمېټي (PAC) له لارې، له ۱۰۰ څخه د ډېرو هغو جمهوري‌غوښتونکو وکیلانو ملاتړ وکړ چي د ولسمشر جوبایډن د ټاکنو د پایلو د تایید پر ضد يې رایه ورکړي وه او د ۲۰۲۲ز. کال د ډموکرات ګوند په خپلمنځي لومړنیو ټاکنو کې يې ۲۴ میلیونه ډالر ولګول، څو هغه نوماندان مات کړي چي د آیپک له نظره، له اسراییلو يې پوره پلوي نه وه کړې.
د دې بودجې ډېره برخه د جمهوري‌غوښتونکي، ډونالډ ټرمپ د کمپاین مالي تمویلوونکو لهخوا برابره شوي وه چي مشهور کسان يې:**امریکایی میلیاردر، یهودتوکمه، (پاول سینګر)؛ امریکایی میلیاردر، یهودتوکمه (برني مارکوس)، امریکایي میلیاردر او امریکایی او اسراییلی دوه تابعیته، (حایم سابان) وو.**[5]

له دې پیسو څخه ۴ میلیونه ډالر د **(هیلي ستیونز)** د ملاتړ په موخه او د کانګرس د غړي یهودتوکمه (اینډي لوین) د ماتولو لپاره ولګول شول؛ هغه استازی چي تل يې پر آیپک باندې د اسراییلو د ملاتړ له امله په پرلهپسي توګه نیوکي کولې.

همدارنګه، ۷ میلیونه ډالر د **(ډونا اډوارډز)** د ماتولو لپاره ولګول شول چي د مریلینډ ایالت د لومړنیو ټاکنو مخکښه نومانده وه چي د ۲۰۱۲ز. کال د غزې د جګړې پر مهال يې د اسراییلو د ملاتړ د پرېکړهلیکونو ملاتړ نه ؤ کړی.[6]

## د امریکا پر کانګرس د آیپک اغېز

د آیپک د لابي‌توب له بنسټیزو ستنو څخه یوه هم د امریکا د متحده ایالاتو د کانګرس پر غړو ژور اغېز دی، هغه ځای چي اسراییل په عمل کې له هر ډول نیوکي خوندي پاتې کېږي.
د آیپک د لابي‌توب د بریا یو مهم لامل دا دی چي د هغې څیني اصلي غړي **(مسیحي صهیونیستان)** دي، لکه **(ډیک آرمي)** چي د ۲۰۰۲ز. کال په سپتمبر کې يې په ډاګه وویل:**«زما د بهرني سیاست لومړیتوب له اسراییلو ملاتړ دی.»**
د آیپک اغېز د امریکا پر کنګره باندې تر دې کچې رسیدلی چي د امریکا پخواني ولسمشر **(جمي کارټر)** غوښتل **(جورج بال)** د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر په توګه وټاکي خو هغه پوهیده چي بال د اسراییلو له منتقدینو څخه دی او د اسراییلو لابیان به د هغه د ټاکل کیدو مخالفت وکړي چي له امله يې بال ونهکړای شول، دغه مهم دولتي مقام ته ورسیږي.[7]

د آیپک لابیانو وکړای شول پر عراق د دویم برید ترسره کولو د کانګرس رایه په اکثریت سره وګټي «په ۲۰۰۲ز. کال کې، دغي ډلي هڅه وکړه چي په دې اړه له کانګرس سره کار وکړي ترڅو حکومت ته په عراق باندې د برید اجازه ورکړل شي چي په ۲۰۰۳ز. کال کې د آیپک په غونډو کې د عراق د جګړې ملاتړ وشو.»[8]
د کانګرس پخوانی استازی **(جېم موران)** چي د آیپک ډلي له سختو منتقدانو څخه ؤ، په ۲۰۰۷ز. کال کې د کالیفورنیا یهودی مجلې (تیکون) ته وویل چي **«آیپک له پیله [د عراق جګړه] پر مخ بېوله**، زه فکر نه کوم چي دوی به د امریکایي یهودانو د فکري جریان استازیتوب وکړي خو د بنه تنظیم او د خپلو غړو د فوق‌العاده ځواک له امله (چي ډېری يې ډېر شتمن دي) توانېدلي دي خپل نفوذ پلی کړي. د دغو څرګندونو له امله، پر جېم موران باندې د یهودي ډلو له لوري پراخي نیوکي وشوې.[9]

په عراق کې د صدام حسین د حکومت له سقوط وروسته، په امریکا کې آیپک او نورو اسراییلي لابیانو کوښښ وکړ په سوریه کې د بشار اسد حکومت بدل کړي او د ایران حکومت ته هم بدلون ورکړي.

---

5 :https://www.theguardian.com/us-news/2022/jul/18/democratic-primaries-aipac-israel-hardline

6 https://www.theguardian.com/us-news/2022/aug/04/aipac-pro-israel-groups-primary-race

7: لیکوالان: جان. جی. میرشایمر او استیون.ایم. والت: لابی اسراییل وسیاست خارجی ایالات متحده. فارسي ژباړه: لطف الله میثمی.

8 https://web.archive.org/web/20120604191400/http:/www.washingtonpost.com/ac2/wp-dyn/A63578-2003Mar31?language=printer

9 :https://www.washingtonpost.com/obituaries/2023/02/13/morris-amitay-aipac-israel-dead /

د آيپک رول په منځني ختيځ کي له ورايه څرګند دی چي د اسراييلو د هر ډول بشر ضد کړنو د پټولو او ردولو په اړه د کانګرس پر وکيلانو هغه څه ومني چي اسراييلي صهيونستان يي غواړي، د بېلګي په توګهٔ:«د کانګرس د استازو د غونډې هغه پرېکړهليک چي په ۲۰۰۹ ز. کال کي په غزه کي د اسراييلو لهخوا د بشري حقونو د سرغړونو په اړه ملګرو ملتونو ته د قاضي **(ريچارد جوزف ګولډستون)** د ورکړل شوي راپور غندنه کوله، د کانګرس د ۳۴۴ غړو د موافقو رايو او د ۳۶ مخالفو رايو په ورکولو سره تصويب شو.[10]

د ګولډستون د راپور په اړه، د امريکا د کانګرس پخواني وکيل **(براين بېرد)** چي پخوا د آيپک غړی ؤ او وروسته له آيپک څخه جلا او بيا د آيپک له سختو منتقدانو څخه شو، وايي چي **«کله چي د پارلمان په غونډه کي مهمي رايي ورکول کيږي، ډېری وخت په تالار کي پوښتنه دا نه وي چي د امريکا د متحده ايالاتو لپاره سم کار کوم دی چي بايد ترسره شي؟ بلکي پوښتنه دا وي چي آيپک څنګه کولی شي کار پر مخ بوزي؟»**
هغه د ۲۰۰۹ز. کال د استازو د غونډې د هغه پرېکړهليک يادونه وکړه چي په غزه کي د اسراييلو د ناوړه کړنو خلاف د ملګرو ملتونو د ګولډستون په راپور کي مالومات وړاندي شوي وو.
براين بېرد زياتوي: **«نو کله چي رایاچوونه وشوه، ما وويل: موږ په پارلمان کي ډېر غړي لرو چي تالار ته راځي او د داسي پرېکړهليک په اړه رايه ورکوي چي هېڅکله يي نه وي لوستلی، د هغه راپور په اړه چي هېڅکله يي نه وي ليدلی او د هغه ځای په هکله چي هېڅکله يي نه دی ليدلی.»**[11]

د آيپک کمېټه د امريکا پر ولسمشرانو باندي د فشار له ډېرو مختلفو لارو کار اخلي ترڅو د اسراييلو په پلوی کار وکړي او ډېری ولسمشران يي اړ کړي چي د آيپک ډول ته ونځيږي. «جو بايډن، باراک اوباما، جيمي کارټر او جورج ابچ. ډبليو. بوش، ښه پوهيدل چي که څوک د اسراييلي لابي [آيپک] له لاري واوړي، نو سياسي بيه به پري کړي.»[12]

دا د آيپک د لابيانو برکت دی چي د فلسطين مسئله لا تر اوسه ناحل پاتي ده، د امريکا ولسمشران نه شي کولی د اسراييلو او فلسطين په اړه غوڅ ګامونه پورته کړي، تر ټولوغټه توره يي دا وي چي يوازې ساده او نرمې نيوکې وکړي. د امريکا «د ملي امنيت پخواني سلاکار **(برينټ اسکوکرافت)** د ۲۰۰۴ز. کال، د اکتوبر په مياشت کي په څرګنده وويل چي د اسراييلو لومړی وزير **«شارون، بوش په خپله کوچنۍ ګوته ګرځوي.»**
هغه زياته کړه چي «که بوش وغواړي د امريکا متحده ايالات له اسراييلو څخه لږ څه هم لري کړي او يا د فلسطين په اشغال شويو سيمو کي د اسراييلو کړني تر نيوکي لاندي راولي، بې له شکه به په کانګرس کي [د آيپک] د لابيانو له سخت غبرګون سره مخ شي.

د ايپک کمېټي بله دنده دا ده چي د امريکا پټ دولتي اسناد او رازونه اسراييلو ته ورسوي چي يوه بېلګه يي د امريکا د هوايي ځواک ډګروال، **(لارنس انتوني فرانکلين)** لهخوا د دفاع وزارت د پټو اسنادو ورکول د يادولو دي.
هغه مهال چي د امريکا کورنيو استخباراتو FBI څېړنه کوله چي د امريکا هغه ډېر محرم مالومات چي د آيپک کسانو له ډګروال لارنس انتوني فرانکلين څخه تر لاسه کړي وو، د اسراييلو دولت ته لېږلي دي که نه. چي په دغه حساس وخت، د ۲۰۰۵ز. کال، د اپريل په مياشت کي، **(سټيون روزن)** د آيپک د پاليسيجوړوني مدير او **(کيټ وايزمن)** په آيپک کي د ايران د چارو لوړپوړی شنونکی، د آيپک لهخوا له دندو ګوښه کړای شول.
وروسته، پر دوی، اسراييلو ته د ملي امنيت، د ډېرو پټو اسنادو د غيرقانوني راټولولو او افشا کولو د توطئي تورونه ولګول شول.
آيپک ومنله چي که اړتيا شي، د وايزمن د حقوقي دفاع لګښتونه به د استيناف محکمي تر پړاو پوري ورکړي.[13]

---

[10] :http://www.newyorker.com/magazine/2014/09/01/friends-israel

[11]:هماغه

[12]: آمريکا تاوان پس خواهد داد. دلايل ترس آمريکايي ها از اسرائيل
https://spnfa.ir/20231111/AF-18578732.html

[13]:ايالات متحده پرونده جاسوسی لابيست اسرائيل را مختومه اعلام می‌کند
https://www.dailykos.com/stories/2009/5/1/726928/-


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

د ۲۰۰۵ز. کال د مي په میاشت کې، د امریکا عدلیې وزارت اعلان وکړ چې لارنس انتوني فرانکلین، د امریکا د هوايي ځواک ډګروال چې د پنتاګون په دفاع وزارت کې د سلاکار (ډاګلس فیث) د دفتر د شنونکي په توګه یې کار کاوه، د FBIلهخوا په دې تور نیول شوی او پرې دعوه شوې ده چې اسراییلو ته یې د ملي دفاع د ډېرو پټو اسنادو مالومات ورکړي دي.

په دې شپږ مادهایزه جزايي دعوه کې د آیپک یادونه شوې چې د یوې غونډې پر مهال، فرانکلین د آیپک دوو تنو چاراواکو ته ډېر پټ مالومات ورکړي دي.[14]

**فرانکلین ومنله چې دولتي پټ اسرار يې روزن او وایزمن ته ورکړي او د لومړي ځل لپاره یې دا هم وويل چې ده، ډېر پټ اسناد په واشنګټن کې د اسراييلو د حکومت یو چارواکي ته په مخامخ توګه ورکړي وو.**[15]

بلې خوا د اپیک کمېټه د امریکا پر خبري رسنیو هم ډېر اغېز لري چې له امله يې په پراخه کچه د امریکا په ډلهییزو رسنیو کې د دوی تبلیغات خپريږي چې لاملونه یې پر رسنیو باندې د آیپک او نورو اسراییلپلوه لابیانو او په خپله د امریکایي یهودانو ولکه ده.
د امریکا مشهور لیکوال، ورځپاڼه لیکونکی او د رسینو منتقد یهودتوکمه **(ایریک آلترمن)** وایي چې په امریکا کې د منځنې ختیځ کارپوهان د هغو کسانو تر واک لاندې دي چې پر اسراییلو د یوې نیوکې خیال هم نه شي کولای.
آلترمن د ۶۱ تنو لیکوالانو او خبریالانو نومونه یادوي چې په څرګنده توګه د اسراییلو هر اړخیز ملاتړ حساب پرې کېدای شي چې پر وړاندې يې یوازې ۵ تنه کارپوهان شتون لري چې په دوامداره توګه د اسراییلو چلند تر نیوکو لاندې راولي او د عربو د دریځونو ملاتړ کوي.[16]

## د اسراییلي صهیونستانو لهخوا د امریکایانو وېرول

له اسراییلو څخه د امریکایانو د ملاتړ څلورم عامل د اسراییلي صهیونستانو لهخوا د امریکایانو وېرول دي، دا ډول وېرول (د اسراییلو پټه وسله ده) چې د امریکایانو پر وړاندې یې کاروي، دا مانا چې که اسراییل تر فشار لاندې راوستل شي او امریکایان مرسته ونه کړي نو د یو وحشي هیواد په څېر به داسې کړنې ترسره کړي چې هم به خپل دښمنان له منځه یوسي او هم به په خپله اسراییل له منځ یوسي.
د اسراییلي صهیونستانو دا ډول وینا د اسراییلو له یو افسانوي پهلوان **(شمشون)** له ځانوژنې سره پرتله کوي چې هغه د فلسطینیانو د یو معبد چت، په معبد کې پر راغونډ شویو فلسطینیانو راغورځوي، وړاندې له هغې چې چت راوغورځوي وایي:**«پرېږده چې له فلسطینیانو سره یو ځای مړ شم. »**[17]
د اسراییلو لومړي وزیر (موشه شارت) د شمشون د پېښې په اړه وایي: «دا د شمشون عقیده داسې څه دي چې نه باید څوک په ټیټه سترګه ورته وګوري.»[18]
**(اریه لووا الیاف)** چې د اسراییلو یو وتلی لیکوال او سیاستوال ؤ وېلي چې «د اسراییلو دا عقیده چې ټول کفار [غیرییهودان] باید ووژنو او له دوی سره خپل ځانونه هم باید ووژنو، د هغوی د لېونتوب نښنه ده... .»[19]

---

[14] :https://fas.org/sgp/jud/aipac/franklin_facts.pdf
[15]: *ایالات متحده پرونده جاسوسی لابیست اسرائیل را مختومه اعلام کرد . رویترز*
/https://www.reuters.com/article/idUSTRE540463
[16]: لیکوالان: جان. جی. میرشایمر او استیون.اېم. والت: لابی اسراییل وسیاست خارجی ایالات متحده. فارسي ژباړه: لطف الله میثمی.
[17]: د شمشون په اړه ولولئ د لیکنو ۳۷مه برخه.
[18]: نوام چامسکي: مثلث سرنوشت ساز: ایالات متحده امریکا، اسراییل و فلسطینيها. بخش دوم. فارسي ژباړه:هرمز همایون پور. ۴۶۱مخ
[19]: هماغه سرچینه: ۴۶۱مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

د دې لپاره چې اسراييل امريکايان وډار کړي او هر ډول وسلې تر لاسه کړي نو د ۱۹۷۳ز. کال په اکتوبر کې يې وويل چې موږ به له آټومي وسلو کار واخلو. دا ډول تهديد په رښتيا سره امريکا ته متوجه ؤ نو امريکايان يې ووېرول ويې ويل چې اسراييلو ته د وسلو ځنډول به په منځني ختيځ کې فاجعه رامنځ ته کړي.[20]
د امريکا د امنيت شورا پخوانی سلاکار او د بهرينو چارو وزير يهودتوکمه **(هنري کيسينجر)** ويلي ؤ چې له اسراييلو سره بايد زموږ مخالفت رامنځ ته نه شي... موږ نه بايد عربو ته اجازه ورکړو چې په دې فکر کې شي چې موږ له اسراييلو سره د مخالفت په خيال کې يو... موږ بايد اسراييل خوار نه کړو او د رواني او جسمي ورانۍ پر لور يې ونه ځغلوو، **دغه هېواد (اسراييل) بايد زموږ سره د زړه تړاو ولري، مينه او يووالی ولري او هېڅکله بايد چې د دايمي فشار احساس ونه کړي... .**[21]

د پورته مالوماتو په پايله کې ويلی شو چې امريکايي چارواکي په امريکا کې د اسراييلي لابيانو لهخوا، له ځو اړخونو څخه تر فشار لاندې راوستل شوي او اړ دي چې له اسراييلي صهيونستانو څخه ملاتړ وکړي، دا فشارونه (لکه وړاندې چې يادونه وشوه) په امريکا کې اسراييلپلوه مذهبي ډلې، اسراييلي لابي ډلېټپلې، د امريکايي سياستوالو بلکمېل کول او د اسراييلي صهيونستانو لهخوا د امريکايانو د وېرولو له لارې ترسره کېږي. زموږ د دې ليدلوري سره، مشهور امريکايي سياستوال او د نړيوالو سياسي علومو پياوړی پوه، **(جان ميرشايمر)** همنظره دی چې وايي: **«متحده ايالات د کورنيو سياسي ملاحظاتو او په واشنګټن کې د اسراييلي ملاتړو لابيانو له وېرې، له اسراييلو ملاتړ کوي.»**
شايمر زياتوي چې «لابيانو د متحده ايالاتو د مشرانو لاسونه د اسراييلو پر وړاندې د سولې د منلو لپاره د فشار راوړلو په برخه کې تړلي دي.»[22]

لنډه دا چې د يهودو دا ادعاګانې چې **«موږ پر پاچاهانو حکومت کوو او غېريهودان ځاروي دوله انسانان دي.»**[23] د امريکا د سياستوالو په کړنو، په ځانګړي توګه د امريکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ په وجود او کړنو کې په ښکاره توګه ليدل کېږي چې څرنګه اسراييلي صهيونستان په هغه باندې حکومت کوي **او د يو غلام او ځاروي په څېر پېل د خوښې بارونه پرې وړي.**

په دې لاندې لېنک کې وګورئ د ټرمپ غلامي او د دولتي ترهګرو مشر نتانياهو باداري:
https://www.youtube.com/shorts/iZg0QFnQqQE

نېټه: ۱۱/۱۰/۱۴۰۴ل. ل
**نور بيا**

د ښاغلي محمد انور اخګر نوري ليکنې په دې لېنک کې ولولئ.

---

[20]: هماغه سرچينه: ۶۳۲مخ
[21]: هماغه سرچينه: ۴۶۱مخ.
[22]: ليکوالان: جان. جی. ميرشايمر او استيون.ايم. والت: لابي اسراييل و سياست خارجی ايالات متحده. فارسي ژباړه: لطف الله ميثمی.
[23]: په دې اړه د ليکنو ۱۶مه برخه ولولئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولـئ